## الدرس الثاني
## دوهم درس

### الاطعمة المباحة على نوعين
### مباح خوراكونه دوه قسمه دی

اُوچه باندي اُوسيدونکی ، او درياب کښې ژوند کونکی ، هر چی دريابی حيوانات دی نو هغه حلال دی تردی چی د درياب مرداره هم حلاله ده ، د ذبحی شرط پکښې نشته دی.

د اُوچی اوسيدونکي حيوانات حلال دی مګر هغه انواع چی اسلام حرام کړی دی لکه :

١=خنزير

٢=کورنئ خر

٣= د داړو والا حيوان چی ماتول کوی مګر ضبع (ګورګټیئ)جائز ده .

٤=په مارغانو کښې پنجو والا چی ماتول کوی څکه حديث کښې راغلی دی : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «**نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عَنْ كُلِّ ذِى نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَعَنْ كُلِّ ذِى مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ**» (رواه مسلم : ١٩٣٤)

ترجمه : عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ منع کړيده د خوراک دهر هغه درنده نه چی تيره غاښونه لری ، او دهر هغه مارغه نه چی پنجي لری.

٥=هغه مارغان چه ګندګی او مرداری خوری ، لکه تيپوس ، باخه ، کارغه وغيره څکه ددوی خوراک ګندګی ده ، او هغه چی د انسان طبيعت ئې بد کنړی لکه مار ، لړم ، مږه ، چنجی او نور حشرات وغيره ، ددی نه علاوه مارغان او حيوانات حلال دی لکه آسونه ، صحرانی خره ، چرګان ، هوسئ ، سُويئ (خرګوش) ، شترمرغ وغيره وغيره ، مګر صرف جلاله (ګندګي خوړونکی حيوان) او دا هغه حيوان دي، چی اکثر خوراك دهغی ګندګی وی ، نو دری ورځو د بندولو نه پس چی پاک خوراک وکړی بيا جائزه دی ، سبزيانو کښې دُوږی او پياز خوراک مکروه دی ، او هر هغه سبزی چی ددی پشان بد بوئی ولری او خاصکر جومات ته د حاضرئ په وخت کښې تری څان ساتل پکار دی ،که چرته يو انسان دومره محتاجه شي چی د هغه ژوند ته خطره وی نو دغه وخت کښې حرام څيزونه دومره خوړل جائز دی چی ژوند ئے بچ شی سيواء د زهرونه ، که يو سړی د ميوو په باغ ورتيريږی او راغورځيدلی شوی ، يا زمکی ته نزدی ميوی چی نه دباغ نه ګير چاپيره ديوال وی ، او نه څوکيدار وی خوړل جائز دی ، د څان سره به وړی نه، او نه به ونی ته خيژی ، او نه به ئی په کانړو باندی ولی او نه به د راغونډ شوو ميوو نه اخلی مګر که سخت ضرورت وی .